# که تاسې په الله حق توکل کاوه، الله به تاسې ته داسې روزي درکوله لکه څنګه چې مرغانو ته روزي ورکوي چې سهار خالي ججوري وځي او بېګاته ډکې ګېډې راستنيږي

له عمر بن الخطاب رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «که تاسې په الله حق توکل کاوه، الله به تاسې ته داسې روزي درکوله لکه څنګه چې مرغانو ته روزي ورکوي چې سهار خالي ججوري وځي او بېګاته ډکې ګېډې راستنيږي».
[صحيح دی] [امام احمد، الترمذي، النسائي، ابن ماجه، ابن حبان په خپل صحيح کې او حاکم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم پر مونږ ټينګار کوي چې د دنيا او دين په چارو کې د ګټې د لاسته راوړلو او ضرر دفع کولو لپاره پر الله جل جلاله توکل وکړو، ځکه چې له هغه پاک ذات پرته بل څوک د ورکړې، منع کولو، ضرر او يا ګټې رسولو واک نه لري. او دا چې په الله تعالی له ريښتوني باور سره هغه اسباب وکاروو چې ګټې راجلبوي او ضرر دفع کوي، نو کله چې مونږ دا کار وکړ الله تعالی به مونږ ته داسې روزي راکړي لکه هغه مرغانو ته يې چې ورکوي چې سهار وختي وږي وځي او بېګا مهال بېرته ډکې خېټې راګرځي، د الوتونکو دا کار د رزق د پلټنې پسې د اسبابو کارولو يو ډول دی، پرته له دې چې سستي او تمبلي وکړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66538